**بسم الله الرحمن الرحیم**

**سیاسي بحثونه**

## د ځینو شبابو د پوښتنو ځوابونه
(ژباړه)

۱- یو چا پوښتلي چې: ایا شونې ده چې امریکا له چین سره هم یو تړون وکړي، لکه څرنګه چې په ۱۹۶۱ م کې د کینیډي او خروشچف ترمنځ شوی و. ایا موږ داسې ویلی شو؟ په ځانګړي ډول د دې لپاره چې چین یو نړیوال اقتصادي ځواک او د امریکا لپاره لومړۍ درجه ګواښ دی؟ همدارنګه په تایوان کې د چین پر وړاندې د امریکا ګواښ له دې مسلې سره څه تړاو لرلی شي؟

**ځواب:** له چین سره داسې یو تړون ناشونی برېښي. د تړون پر ځای، امریکا هڅه کوي چې چین په تایوان کې ښکېل کړي او په دې ډول یې مهار کړي، د خپلې ارادې تابع یې کړي او په اوکراین کې یې د روسیې له ملاتړ څخه منعه کړي. امریکا د چین لمخولو په موخه یو شمېر اقدامات کوي؛ د دغه هېواد پر وړاندې متحدین راټولوي چې پر ضد یې کار وکړي او بندیزونه پرې وضع کړي. امریکا په حقیقت کې د چین پر وړاندې سوداګریزه جګړه اعلان کړې او ښکاري چې په یو ډول د تایوان د ستونزې تر حلولو پورې به خپلو پاروونکو اقداماتو ته ادامه ورکوي؛ ځکه چین په دې خبره ټینګار کوي چې تایوان، که په زور هم وي، باید له خپلې خاورې سره یو ځای کړي. ولسمشر شي جین پینګ، چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره یې خپله درېیمه ولسمشریزه دوره پیل کړه وویل: «چین حق لري چې په سختو حالتو کې د وروستي انتخاب په توګه د تایوان پر سر له زوره کار واخلي» (الجزیره، ۲۰۲۲/۱۰/۱۶). چین په اوکراین کې اوسنۍ او راتلونکې پېښې د دې لپاره څاري چې که روسیه په اوکراین کې له درنې مرګژوبلې سره مخ شي، چین به په تایوان کې له ښکېلېدو ډډه وکړي.

چین که څه هم په پیل کې د بشپړ ملاتړ ډاډ ورکړی و او د نامحدودې همکارۍ تړون یې لاسلیک کړ، په اوکراین کې د روسیې له ملاتړ څخه لاس په سر شو او د بې طرفۍ دریځ یې غوره کړ. یاد دریځ روسیه زیانمنه کړه او پوتین ځکه متوازن دریځ وباله چې که هغه پر چین نیوکه یا اعتراض وکړي، ښایي د چین همدغه کم ملاتړ هم له لاسه ورکړي. له همدې امله، امریکا له چین سره تر هغه وخته د پخواني شوروي اتحاد پشان د نړیوال مشارکت تړون نه کوي چې ټولې چارې یې پای ته نه وي رسولې. امریکا همدارنګه له چین سره د دغه هېواد په سوېل او ختیځ سمندرونو کې د نفوذ سیمې رامنځته کولو پر سر هم تړون نه کوي؛ امریکا د دې سیمو شاوخوا هېوادونه هڅوي چې د چین پر ضد اقدامات وکړي او په دې سیمو کې د چین مخه ونیسي.

۲- بل کس پوښتي چې: (روسیه کولی شي د کیوبا د توغوندیو د بحران پشان په ګواښ سره امریکا ته ځواب ورکړي؛ لکه شوروي اتحاد چې وکړل؛ روسیې ولې تر اوسه دا کار نه دی کړی؟

**ځواب:** پورته بیان د روسیې په اړه ریالیستیک نه دی؛ ځکه روسیه پوهېږي او احساسوي یې چې امریکا تر دوی ځواکمنه ده. شوروي اتحاد له امریکا متحده ایالاتونو سره موازي ځواک و. که یاده موضوع په ژوره توګه تحلیل کړو، دواړه هیوادونه د اټومي ځواک له پلوه سره مساوي دي، خو امریکا د توغندیو ضد داسې یو سیستم لري چې د روسیې د توغندیو دفاع کولی شي؛ دا سیستم له روسیې سره نشته. روسیې چې د توغندیو ضد سیستم جوړولو په اړه کوم اعلان وکړ؛ کار یې لا په لومړیو پړاوونو کې دی؛ یعني د روسي د هغو فعالو توغندیو شمېر ډېر کم دی چې امریکا ته رسېږي او د توغندیز ضد سیستم څخه تېرېږي؛ برعکس د امریکا پخواني نصب شوي توغندي چې د روسیې خاورې ته رسېږي؛ ټول شته.

امریکا په معمولي وسلو کې په حیرانوونکي ډول پرمختګ کړی دی، لکه؛ بې پیلوټه الوتکې، نه کشفېدونکي الوتکې او ځیرک توغندي او روسیه په دې برخه کې له امریکا سره د پرتلې وړ نه ده. د اوکراین په جګړه کې د روسیې د هوایي ځواک کمزوري ښکاره شوه چې ان د اوکراین په څېر هېواد هوایي حریم یې مهار نشوای کړی او بې پیلوټه الوتکې یې نیمګړتیاوې لري. د راپورونو له مخې، روسیه د اوکراین په جګړه کې له ایراني بې پیلوټه الوتکو څخه کار اخلي. د اکراین جګړې د روسي ځواکونو کمزوري هم افشا کړه. دا څنګه ابرځواک دی چې په شاوخوا اتو میاشتو کې یې د اکراین پشان یوه کوچني هیواد ته، که څه هم د غرب ملاتړ ورسره و، ماتې ور نه شوی کړی!؟ روسیه د جګړې په لومړیو کې د غربي ملاتړ تر ډېرېدو وړاندې، د پلازمېنې کیېف له شاوخوا په بیړه ووتله، دا څنګه لویوالی دی؟ هغه وخت خو له اکراین سره دومره زور نه و! نو، لکه مخکې مو چې وویل؛ دا خبره چې (روسیه کولی شي داسې ځواب ورکړي لکه څرنګه چې د «کیوبا د توغندیو کړکېچ» په وخت کې پخواني شوروي اتحاد امریکا په نیږدې کېدو وګواښله)؛ له واقعیت څخه لرې ده؛ ځکه روسیه د هغه شوروي اتحاد په څېر نه ده چې د کیوبا د توغندیو د کړکېچ پېښېدو پر وخت و.

۳- په پوښتنه کې چې د نړیوال مشارکت خبره شوې؛ په دې اړه باید ووایو چې د امریکا لپاره نړیوال مشارکت په دې معنی دی چې لوی هېوادونه باید د امریکا په موافقت او له نړیوالو ګټو او عوایدو څخه د لرې برخې په بدل کې د امریکا د ګټو لپاره کار وکړي؛ لکه روسیې چې هوکړه وکړه چې په سوریه کې د امریکا ګټې خوندي کوي، دوی په ۲۰۱۵ کې په سوریه کې پوځي مداخله وکړه، روسیه د یوه لوی هېواد په توګه راپورته شوه او په امنیت شورا کې یې د ویټو حق وپېژندل شو؛ دغه یو نړیوال رشوت و چې سترګې نه شي پرې پټېدای. بیا امریکا وغوښتل چې د روسیې خدمت د چین حوزې او هلته د چین او شمالي کوریا پر ضد د امریکا لپاره کار کولو ته بدل کړي؛ خو روسیې رد کړه. کله چې امریکا ډاډمنه شوه چې روسیه په دې برخه کې کار نه ورته کوي؛ په سوریه کې یې د زیاتېدونکي رول په کمولو پیل وکړ او په نورو برخو، لکه د اذربایجان او ارمنستان په جګړه کې یې هم پر روسیې فشار راوړ او همداسې ډېرې نورې برخې.

دا امریکایي فکر دی؛ واشنګټن یې خپل نفوذ له چا سره نه شریکوي، بلکې په دې اړه فکر کوي چې له لویو هېوادونو ګټه واخلي او له دې لارې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خپلو ګټو ته ورسېږي؛ امریکا د دغې مرستې په بدل کې دغو هېوادونو ته د نړیوالو ګټو یوه برخه ورکوي. امریکا د چین، روسیې او اروپایي هېوادونو پر وړاندې همدا فکر لري. نن ورځ امریکا په ختیځه اروپا کې د روسیې پر ضد د المان رول پراخ کړی دی، خو دغه رول د امریکا تر مشرۍ او پلان جوړولو لاندې څارل کېږي. که المان د امریکایي مشرۍ او پلان جوړولو پرته پخپله کوم کار وکړي؛ امریکا زیان ورته رسوي. د امریکایي فکر منطق همدا دی.

۴- بله پوښتنه دا وه، چې «ولې امریکا پر هند بندیزونه نه لګوي؟ په داسې حال کې چې هند له روسيې څخه د تېلو پر واردولو هوکړه کړې.»

**ځواب:** امریکا پر هند بندیزونه نه لګوي؛ که دا کار وکړي، د امریکا د ګوډاګي مودي او د ده د ګوند، بهارتیاجاناتا برخلیک له ګواښ سره مخ کېږي. نو امریکا د هند پر وړاندې له روسيې څخه د ګازو او تېلو واردولو په تړاو غبرګون نه ښيي؛ ځکه چې بدیل نه شي ورته پیدا کولی. که هند د المان په څېر له روسيې څخه د انرژۍ سرچینو واردات ودروي، په دغه هېواد کې بيې دوه برابره کېږي او خلک به يې د پېرلو توان ونه لري. دا بیا په هند کې د مودي پر امریکايي پلوي حکومت باندې اغېز کولی شي؛ هند کې د کانګرېس ګوند غړي چې د انګلیس مزدوران دي؛ دې فرصت ته په تمه دي. امریکا ان هند ته د روسي وسلو پیرلو اجازه هم ورکوي، ځکه دا کار د کانګریس ګوند له تاسیس څخه ۱۹۴۷ تر ۱۹۸۸ پورې چې پر هند واکمن و، دود و. د هند ملتپال بهارتیاجاناتا ګوند (BJP) په لومړي ځل تر ۲۰۰۴ کال پورې په هند کې واکمن و او وروسته کانګریس ګوند تر ۲۰۱۴ پورې په هند کې واکمن و. وروسته تر هغه د هند ملتپال ګوند بیا واکمن شو او تر نن ورځې پورې يې د بریالیتوب دلیل د پاکستان د لاسپوڅو حکامو شاتګ دی؛ په ځانګړي ډول د کشمیر په مسله کې چې د امریکا په امر پر شا شول.

پاکستان د امریکا په امر کشمیر هند ته وسپاره او په دې سره د هند د ملتپال ګوند محبوبیت زیات شو. کله چې هند له روسيې څخه S-400 توغندي وپېرل، امریکا د ترکیې په څېر بندیز پرې ونه لګاوه. امریکا، هند د بندیزونو له لارې د امریکا د سیالانو د مخنیوي قانون یا CAATSA له مخې له بندیزونو معاف کړ او د امریکا د استازو جرګې هم په ۲۰۲۲/۷/۱۴ نېټه د ۲۰۲۳ کال لپاره د امریکا دفاع وزرارت بودیجه د یوې برخې په توګه دا پرېکړه تایید کړه او ويې ویل «چې دا معافیت به د امریکا او هند ترمنځ دفاعي اړیکې پیاوړې کړې» (انادولو، ۲۰۲۲/۷/۱۶). د مور میرې چلند ته په کتو، د دې قانون په چوکاټ کې پر ترکیه بندیزونه لګول کېږي او پر هند له دې وېرې بندیزونه نه لګول کېږي چې ګواکې امریکا خپل نفوذ له لاسه ورکوي، که هند د روسيې د انرژۍ له پېرلو منع شي، نو مودي او هندو ملتپال ګوند به یې له واکه لرې شي. په داسې حال کې چې دغه څه پر اردوغان او حکومت یې چې د امریکا پر محور څرخي، اغېز نه کوي؛ برعکس د هغه شهرت ډېروي او له امریکا سره يې اړیکې پټوي.

۵- د تېلو او ګازو په تړاو د نورو پوښتنو په ځواب کې باید ووایو چې:

الف: د روسيې انرژۍ د بندیدو لومړۍ درجه قرباني اروپا ده، ځکه اروپا خپل لور ته د روسيې پراخوالي ته د خطر په سترګه ګوري، که د روسيې پر ګازو او تېلو د اروپا تکیه کمه شي، اروپا له امریکا سره په همغږۍ چمتو ده چې له روسيې سره ښکېله شي او راتلونکې پایلې ومني.

له همدې امله، امریکا، اروپا د روسيې د انرژۍ له پېرلو نه منعه کوي، که څه هم دا د امریکا مخکینۍ ستراتیژي ده. امریکا په اوکراین کې د روسيې په ښکېلولو سره، اوکراین د غرب لور ته مایل کړ، یعني، امریکا په اوکراین کې د لسیزو مداخلې په ترڅ کې په دې وتوانیدله چې روسیه منزوي کړي او ټولې اروپا ته یې یو ګواښ معرفي کړي. کله چې د روسيې ګواښ د اروپا لپاره واقعي شو اروپايي هېوادونه په داوطلبانه ډول د امریکا له تګلارې سره یوځای شول او د روسيې انرژي يې پرې کړه. په دې سره په اروپا کې د هغو ګازو بیه لوړه شوه چې د بحري ټانکرونو له لارې لېږدول کېده، چې مایع ګاز دي او هغه ګاز چې د نلیکو له لارې انتقالیدل د هغو بیه بیا هم ارزانه ده. کله چې د ګازو نللیکې پرې شوې، اروپا مجبوره شوه چې د

ټانکرونو له لارې ګاز وارد کړي او دا ګاز ګران ځکه دی چې په صادروونکي هېواد کې ګاز لومړی په مایع بدلېږي او تر انتقالېدو وروسته په واردوونکي اروپايي هيواد کې بیرته په ګاز بدلېږي.

ب: له ګازو پرته، د تېلو بيې په نړیواله کچه نه یوازې په اروپا کې بلکې په ټوله نړۍ کې لوړې شوې دي. په امریکا کې هم د تېلو بيې لوړې شوې او همدا رنګه د اوکراین د جګړې له امله د غلو دانو بيې هم لوړې شوې دي. یعنې د غلو دانو بيې هم نه یوازې په اروپا، بلکې په نړیواله کچه لوړې شوې. له اوکراین او روسيې پرته، په اروپا او نوره نړۍ کې د غلو دانو او تېلو کموالی د بیو د لوړوالي له امله دی او بل لامل يې له نورو سیمو څخه انتقال دی. د طبعي ګاز مسله توپیر کوي. د طبعي ګاز د بيو لوړېدو سبب د ګاز د مایع کولو صنعت او د لېږدوونکو ټانکرو کموالی دی.  همداراز د طبعي ګاز په مصرف پورې د نړۍ ډېر تړاو يې بل سبب دی؛ یعنې دا چې له ګاز څخه ډېره ګټه اخیستل کېږي چې د ډېرو سکرو او اټومي انرژۍ په سبب د هوا ککړتیا او نور ګواښونه کم کړي.

ج: امریکا غواړي چې د طبيعي ګازو پېر او پلور په ډالر وشي، دا یوه جدي مسله ده خو پر وړاندې يې ډېر خنډونه شته؛ مثلاً روسيې له چین او یو شمېر نورو هېوادونو سره هوکړه کړې ده چې سوداګري به په محلي پولي واحدونو وي؛ له ۲۰۱۴ کال راهیسې د روسيې تګلاره همدا ده. کله چې ګڼ هېوادونه پوه شول چې پر امریکايي ډالر يې تکیه زیاته شوې ده، نو د ۲۰۰۹ کال له مالي بحران راهیسې د ورته تګلارې په اړه فکر کوي. په دې توګه ویلی شو چې له ډالر پرته پر نورو پولي واحدونو سوداګریزه راکړه ورکړه دود شوې خو لا محدوده ده. په امریکا کې د سود کچې زیاتوالی او د ډالرو نوې پیاوړې تګلاره چې په ۲۰۲۲ کې منل شوې ده، امریکا پورته تګلارې ته په پام سره، غواړي چې پر ډالر باندې اعتبار بیرته زیات کړي او په محلي پولي واحدونو سوداګریزه راکړه ورکړه کمزورې کړي. په اوږد مهال کې اقلیمي سیاست په نړیواله کچه پر طبيعي ګاز تکیه ډېروي او د یادې انرژۍ ارزښت هم ډېروي، له همدې امله يې په ډالرو بيه ټاکل امریکا ته لویه ګټه رسوي.

د: امریکا د روسيې او اروپا ترمنځ د نلیکې له لارې د ګازو پرې کولو کې بریالۍ شوه، د نارډ ستریم نل‌لیکې يې پرې کړې ځکه هغه د امریکا له کنټرول څخه بهر وې. خو د روسيې یوه بله نل‌لیکه د ترکیې له لارې اروپا ته ګاز لېږدوي او امریکا پر ترکیې ځکه فشار نه راوړي چې ورپورې تړلې ده. د روسيې ولسمشر، پوتین په ترکیه کې د ترکي مرکز د تاسیسولو اعلان وکړ چې اروپا ته ګاز لېږدوي، یعنې امریکا غواړي چې په راتلونکي کې اروپا ته د روسيې ګاز ولېږدول شي؛ خو دا کار دې له هغو لارو وشي چې واشنګټن يې کنټرولوي.

**۱۴۴۴هـ.ق کال د ربیع الاخر ۶مه**

**۲۰۲۲م کال، د اکتوبر ۳۱مه**